PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

د اداري فساد سره د مبارزې د بهير چټکتيا – د افغانستان حکومت او په افغانستان کې اروپايي ټولنه په ګډه له فساد سره د مبارزې کنفرانس په لاره اچوي

کابل، 7 می 2017

سبا ، د اروپايي ټولنې پلاوي د 2017 ام کال د فساد سره د مبارزې کمپاين د فساد سره د مبارزې د بهير چټکتيا ترسرليک لاندې د يوه لوړپوړي کنفرانس سره په ولسمشريز مانۍ کې د افغانستان د ولسمشر او د اروپايي ټولنې ځانګړي استازی په ګد کوربه توب پای ته رسيږي.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړی استازی فرانز مايکل ميلبن وايي: "زمونږ کمپاين په يو شمير مهمو ننګونو باندې تمرکز کړی چې د فساد سره د مبارزی د چټکتيا په لاره کې شتون لري. په دغه کنفراس کې به فساد پورې اړوند ټولو موضوعاتو باندې بحث وکړي. مونږ د زړه له کومې د افغانستان حکومت له برخه اخيستنې ، د کليدي وزيراتو او لوړو پوړو چارواکو له فعال حضور څخه مننډوی يو. مونږ د افغانستان حکومت هغه پلانونو ته چې د دغه پديدې سره د مبارزې لپاره ترلاس لاندې لري سترګې په لار يو. په دغه کنفرانس کې مونږ او د نړيوالې ټولنې نور مهم همکاران د دغه بهير د ملاتړ لپاره څخه د ملاتړ ځرنګوالې تر بحث لاندې نيسی. "

دغه کنفرانس چې د "په افغانستان کې له اداري فساد سره د مبارزې د بهير چټکتيا" ترسرليک لاندې جوړيږي په قضايي او امنيتي سکتور سربيره د معادنو په سکتور کې د فساد مخنيوي او د فساد په اړه د عامه پوهاوئ باندې تمرکز کوي.

دغه کنفرانس به د افغانستان ولسمشر جلالتمآب محمد اشرف غني او د اروپايي ټولنې ځانګړی استازی فرانز مايکل ميلبن لخواه پرانيستل کيږي. دغه راز د دغه کنفرانس نور ويناوال به د ولسمشر مرستيال جلالتمآب محمد سرور دانش، د ملي امنيت سلاکار محمد حنيف اتمر، د کانونو او پترولیم سرپرست وزير نرګس نهان، د ملګرو ملتونو سرمنشي ځانګړی استازی تادامیچي يامامونو او د افغانستان د بيا رغونې لپاره د امريکا د ځار اداري يا سيګار مشر جان اف. سوپکو وي.

د لا ډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کيل اندرسن
د رسنيو او عامه اړيکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ايميل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu